اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## دکتا ب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لا ندې دعا اولولئ اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ کوم څه چه لولئ نو هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه دَ علم او دَحکمت دروازې پرانيزې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا! (مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)


د رسالې نوم: ژوندئ لور ئې کوهي ته غوزاره کړه

اول ځل: ربيعُ الثّاني ۱۴۳۶ھ، فروري 2015ء تعداد:

ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمی مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچئ.



مدني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چهاپ کولو اجازت نشته.


## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مکتبة المَدينه ته رجوع اوکړئ.

# ژوندئ لور ئې کوهي ته غوزاره کړه


از: شَيْخِ طَرِيْقَت اَمِيْرِ اَهْلِسُنَّت، بانئِ دَعْوَتِ اِسْلَامِي

**حَضْرَت عَلَّامَه، مَوْلَانَا، اَبُو بِلَال مُحَمَّد اِلْيَاس عَطَّار قَادِرِي، رَضَوِي**

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه


## د ترجمې پيشکش:

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې د اُردو ژبې نه په آسانه پښتو ژبه کښې د وس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې زياتې اوومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**مجلس تراجم دعوتِ اسلامي**


عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگراں

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# ژوندئ لور ئې کوهي ته غوزاره کړه

شيطان که هرڅو ناراستي درولي خو دا رساله تر اخيره پورې پوره اولولئ
اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ تاسو به په خپل زړه کښې د لوړو سره محبّت زياتيدل محسوس کړئ.

## د درود شريف فضيلت

د سرکارِ مدينه، راحتِ قلب و سينه، فيضِ گنجينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ خيريت نشان دې: اے خلقو! بيشکه د قيامت په ورځ به د هغې د يرو او حِساب کتاب نه زر خلاصې موندونکې هغه کس وي چا چه په تاسو کښې په ما باندې په دُنيا کښې په کثرت سره درود شريف لوستلې وي. (اَلفِردَوس ج ۵ ص۳۷۵ حديث۸۲۱۰)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!   صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (1) ژوندئ لور ئې کوهي ته غوزار کړه

**يو** کس په بارگاهِ رسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: مونږ د جاهليّت په زمانه کښې بُت پرست وو، خپل اولاد به مو وجلو، زما يوه **لور** وه، چه کله به ما هغې ته غږ [يعني آواز] کولو نو هغه به خوشحاليدله. يوه ورځ ما هغې ته اواز اوکړو نو په خوشحالئ خوشحالئ په ما پسې شا ته رارروانه شوه، مونږه نِزدې يو **کوهي** ته اورسيدلو، **ما هغه د لاسه اونيوله او کوهي ته مې غوزار کړه!**

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

(غریبې) د پلاره! پلاره! چغې وهلې (او زه د هغه ځائ نه لاړم.) (دا ئې چه واوریدل نو) د رحمتِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چشمانِ کرم (یعني مبارکو سترګو) نه اوښکې رواني شوې. بیا سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "اسلام د جاهلیّت په زمانه کښې شوې ګُناهونه ختموي [یعني معاف کوي]."، (سُنَنِ دارِمی ج ۱ ص ۱۴ حدیث ۲ مُلَخَّصًا)

## (2) پلاره! ولې ته ما وژني څه؟

یو کس عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه چه د کله نه مسلمان شوې یم ما ته د اسلام حلاوت یعني خواږه نه دي نصیب شوي، [ځکه چه] د جاهلیّت په زمانه کښې زما یوه **لور** وه، ما خپلې ښځې ته حکم اوکړو چه هغه (په ښو جامو وغیره) ښکلې کړه، بیا ما هغه د ځان سره کړه او د کور نه روان شوم، د یوې جورې کندې خوا ته اورسیدم هغه مې چه هغې ته غوزاروله نو هغې (په وارخطائې سره) اووئیل: **یَا اَبَتِ قَتَلْتَنِیْ؟ یعني پلاره! ولې ته ما وژني څه؟** خو ما (د هغې د ژړا او چغو سُورو هیڅ پروا اونه کړه او) هغه جورې کندې ته مې غوزاره کړه! یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چه کله د خپلې لور دا جُمله (پلاره! ولې ته ما وژني څه؟) رایاده شي (نو سکون مې ختم شي) بیا ما له هیڅ څه هم خوند نه راکوي. حضور تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: "اسلام د جاهلیّت په زمانه کښې شوې ګُناهونه ختموي [یعني معاف کوي]. او د اسلام په حالت کښې (یعني د مسلمان نه

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

شوي ګناهونه اِستغفار [یعني د بخښنې غوښتل] ختموي.،،

(تفسير كبير ج ۷ ص۲۲۵ مُلَخّصًا)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** ”د استغفار،، معنٰی د بخښنې دعا کول دي او د بخښنې دعا د صغيره او كبيره دواړه قسمه ګناهونو د پاره کولې شي، لِهٰذا که **الله** تعالٰی اوغواړي نو په خپل رحمت باندې دا دعاګاني قبولې کړي او واړه غټ ټول ګناهونه معاف کړي. البتّه د عامو اعمالو متعلّق مُحدِّثِينِ کِرام او عُلمائے عُظام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام د دې مسئَلې صراحت فرمائيلې دې چه کبيره ګناهونه صرف په توبه معاف کيږي او په نورو اعمالو کښې چه کوم ځائ د ګناهونو د مُعافئ زيرې وي د هغې نه صرف د صغيره ګناهونو معافي مُراد وي.

## (3) اته لونړه مې ژوندئ خښې کړي دي!

**حضرت** سيِّدُنا قيس بن عاصم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په بارګاهِ رِسالت کښې عرض اوکړو: ما په زمانه جاهليّت کښې خپلې اته لونړه ژوندئ خښې کړي دي. محبوبِ ربُّ العِباد صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ”د هرې يوې په بدله کښې يو يو غلام آزاد کړه.،، عرض ئې اوکړو: ما سره اوښان دي. سرکار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: که غواړې نو د هرې يوې د طرف نه يوه بَدَنَه نَحر (يعني د اوښ قرباني) اوکړه.

(كَنزُ العُمّال ج ۲ ص۲۳۱ حديث ۳۶۸۷)

صَلُّوا عَلَی الحَبِيب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

# پينځه سختې يرونکې واقِعې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو د ''لور،، ژوندئ خښولو په تعلق سره د جاهليّت د دور لږ شان معلومات اولوستل. افسوس يو ځل بيا ځيني خلقو د اسلامي تعليماتو د هيرولو په وجه د لور پيدا کيدل بد ګنړل او د بې رحمئ سُلوك کول شروع کړي دي. چه د دې په وجه هره ورځ د قتل او بربادئ جرمونه کيږي، په نيټ [net] باندې ورکړې شوې پينځه جُرمونه په تصرّف سره وړاندې کيږي. (1) مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د زمانهٔ جاهليّت يادونه تازه شوه، د شپږمې **لُور** په پيدائِش ظالم پلار د لسو ورځو ماشومه د اوبو په ټب [يعني غټ لوښي] کښې په ډوبولو مړه کړه، چه ښځې ئې په دې خبره بد ګنړل ښکاره کړل نو په هغې ئې هم په اودو ډزې اوکړې او مړه ئې کړه، مُلزم ګرفتار کړې شو. (2) يو څو هفتې مخکښې يو کس د لور په پيدا کيدو باندې خپله ښځه په اور اوسوزوله او هغه د هغې نه مړه شوه (3) د جولائې په مياشت کښې د لور په پيدا کيدو باندې خاوند او سخرګنئ د پينځه ويشتو کالو ښځه ژوندئ په اور اوسيزله (4) د عشق مجازي په وجه د دوارو د ميني واده اوشو. **اللّٰه** تعالٰی ورله يو ځوئ او دوه لونړه ورکړې. څه موده پس ئې چه دريمه لور پيدا شوه نو په دې خاوند په سخته غُصّه کښې راغلو او خپله ښځه ئې دومره اووهله چه هغه غريبه بيهوشه شوه، چه هسپتال ته ئې اورسوله نو غريبې نه ساه اووتله (4) د يوې ورځې ماشومه ئې ژوندئ خښه

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

کړه: د پنجاب (پاکستان) په يو کلي کښې **بې رحمه پلار د يوې ورځې لور ژوندئ خښه کړه**! پوليس ملزم گرفتار کړلو. د تفصيلاتو مطابق د مُلزم دا شپږمه لور پيدا شوې وه. ظالم پلار اووئيل چه زما دا لور بدرنګه وه، د هغې مخ وران شوې وو د دې په وجه ئې ډاکټر ته وئيلي وو چه دې ته د زهرو ستن اووهه، د ډاکټر په انکار کولو ئې هغه ماشومه ژوندئ خښه کړه. (روزنامه جنگ آن لائن 14 جولائی 2012 بِالتصرف)

## ژوندئ ماشومه ئې په پريشر کوکر کښې واچوَله او په چولها باندې ئې کيښودله او...

د کشمير په يوه علاقه کښې د يو کس پينځه لونړه وې او په شپږم ځل د څه پيدا کيدو اُميد وو. هغه يوه ورځ خپلې ښځې ته اووئيل چه که تا دا پيره هم لور راوړه نو زه به تا او ماشومه دواړه مړې کړم. د هجري سن 1426 د **رمضانُ المبارك** په دريمه شپه (2005-10-8) ئې يو ځل بيا لور پيدا شوه. هغه د ماشومې د مور د چغو او سُورو هيڅ پرواه اونه کړه او د سحر په وخت کښې هغه بې رحمه پلار (مَعَاذَاللہ عَزَّوَجَلَّ) د ګل په شان ژوندئ ماشومه په پريشر کوکر کښې واچوله او په چولها باندې ئې کيښوده! ناڅاپه پريشر کوکر اوچاودو او ورسره ورسره **خوفناکه** [يعني يرونکې] **زلزله** راغله، او ډير زر **هغه ظالم کس په زمکه کښې خښ شو**. د ماشومې مور په زخمي حالت کښې د مرګ نه بچ کړې شوه

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس(شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

او غالِبًا د هغې په ذريعه د دې دردناکې قِيصې په باره کښې معلومات هم اوشو. د يوې اطلاع په مُطابق په دغه زلزله کښې د دوه لکو [دوه لاکهـ] نه زيات خلق مړه شوي وو.

## چه الله اوغواړي نو ځوئ ورکړي يا لُور يا هيڅ هم ور نه کړي

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ اسلام لور له عَظَمت ورکړې دې او د دې وقار [يعني عزّت] ئې اوچت کړې دې، مسلمان د **الله** عَزَّوَجَلَّ عاجز بنده او د هغه د احکامو پابند وي، که **ځوئ** ورکړې شي يا **لور** يا **بې اولاده** پاتې شي په هر حال کښې ده ته د **الله** عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې راضي اوسيدل پکار دي. پاره 25 **سُورَةُ الشُّوْرٰی** آيت: 49 او 50 کښې ارشاد کيږي:

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ اِنَاثًا وَّ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ﴿۴۹﴾ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّ اِنَاثًا ۚ وَ يَجْعَلُ مَنْ يَّشَآءُ عَقِيْمًا ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾

مفهوم ترجمه کنزُ الاِيمان: هُم د الله د پاره ده د آسمانونو او د زمکې بادشاهي، پيدا کوي چه څه غواړي، چا له چه اوغواړي لونړه ورکړي او چا له چه اوغواړي ځامن ورکړي يا دواړه جوړه ورکړي ځامن او لونړه. او چا له چه اوغواړي شنډ ئې کړي، بيشکه هغه عِلم او قدرت لرونکې دې.

## د ځينې انبيائے کِرامو د اولاد شمار

په ''خَزَائِنُ العِرفان'' کښې د آيت نمبر 50 د دې حِصّې (او چا له چه اوغواړي شنډ ئې کړي) نه لاندې دي: (يعني) ''چه د هغه هډو اولاد

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

اونه شي، هغه يعني (الله تعالٰى) مالك دې، خپل نعمت چه څنګه غوارې تقسيموي، چا له چه څه غوارې ورکوي. په اَنبِياء عَلَيْهِمُ السَّلَام کښې هم دا ټول حالتونه شته دې، د حضرت لوط او حضرت شُعَيب عَلَيْهِمُ السَّلَام صرف لونړه وې، يو ځوئ ئې هم نه وو او د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام صرف فَرزند (يعني ځامن) وو، يوه دُختر (يعني لور) ئې هم نه وه شوې او سيّدِ انبِياء حبيبِ خُدا مُحمّد مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته الله تعالٰى څلور فَرزَند[يعني ځامن] عطا کړي وو او څلور صاحب زادياني [يعني لونړه ئې ورکړې وې].،، (خزائن العرفان ص۸۹۸)

## د حُضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُقدّس اولاد شمار

اګر چه په "خَزَائِنُ العِرفان" کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د څلور فرزند کيدو ذِکر شته خو په دې کښې اختِلاف دې، د درې شهزاد ګانو قول هم شته او د دوو هم. چنانچه په "تذکِرةُ الانبياء" کښې په صفحه 827 کښې دي: د سرکارِمدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځامن وو: **قاسِم، اِبراهيم، عبدُ الله**. ياد ساتئ: چه طيِّب، مُطيَّب، طاهر او مُطَهَّر د هم دوئ (يعني د حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ) القاب وو، دا څه نور ځامن نه وو. (تذکرة الانبياء ص۸۲۷) حضرت علّامه عبدُالمُصطَفٰى اعظمِي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْقَوِى په "**سِيرتِ مُصطفٰى**" صفحه 687 کښې ليکي: په دې خبره باندې ټول مؤَرِّخين (مُ. اَر. رِخِين) مُتّفِق دي چه د حضورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اولادِ کِرامو شمار شپږ دې. دوه فرزند حضرت **قاسِم** او حضرت **ابراهيم**

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په مابانديې درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

(رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا) او څلور صاحبزاديانې حضرت زينب او حضرت رُقَيَّه او حضرت اُمِّ کلثوم او حضرت فاطِمَه (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُنَّ) خو مؤَرِّخِينو دا بيان کړې دې چه دسرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو صاحبزاده **عبدُالله** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) هم دې چه د هغوئې لقب طَيِّب و طاهر دې. د دې قول په وجه د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُقدّس اولاد شمير ووه "7" دې يعني درې صاحبزاد ګان او څلور صاحبزاديانې. (سيرتِ مصطفٰی ص٦٨٧)

## د "خاتونِ جنّت" د اته حروف په نسبت
## د لوڼړو په فضائِلو 8 فرامينِ مُصطفٰی

(1) **لوڼړه** بدې مه ګڼړئ، بيشکه هغه محبّت کونکې دي (مُسندِ اِمام احمد بن حنبل ج ٦ ص١٣٤حديث١٧٣٧٨) (2) د چا چه **لور** پيدا شي او هغه هغې ته تکليف ور نه کړي او نه ئې بده اوګڼړي او نه ځوئ ته په **لور** باندې فضيلت ورکړي نو الله عَزَّوَجَلَّ به هغه کس په جنّت کښې داخِل کړي. (المستدرک ج ٥ ص ٢٤٨ حديث ٧٤٢٨) (3) په کوم کس باندې چه د **لوڼړو** د ساتلو بوجِ راپريوځي او دې د هغوئ سره حسنِ سُلوك (يعني ښه سلوك) اوکړي نو دا **لوڼړه** به د هغه د پاره د دوزخ نه حِصار [يعني د بچ کولو ذريعه] جوړې شي. (مسلم ص ١٤١٤ حديث ٢٦٢٩) (4) چه کله د چا کره لور پيدا شي نو **الله** عَزَّوَجَلَّ فرِښتې راليږي، چه هغه راشي نو وائي: "اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ يعني اے کور والؤ! په تاسو دِ سلامتي وي." بيا فرښتې هغه

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليګي۔ (ابن عدي)

ماشومه د خپلو وزرو په سوري کښې واخلي او د هغې په سر باندې لاس راښکاږي او وائي چه دا يو کمزورې وجود دې او دا د يوې کمزورې نه پيدا شوې ده، کوم کس چه د دې کمزورې وجود د ساتلو ذِمّه واري واخلي، د قيامته پورې به د **الله** عَزَّوَجَلَّ مدد د هغه سره ملګرې وي. (مجمع الزوائد ج ۸ ص ۲۸۵ حديث ۱۳۴۸۴) (5) د چا چه درې **لونړه** وي، هغه د هغوئي سره ښه سلوك اوکړي نو د هغه د پاره جنّت واجِب شي. عرض اوکړې شو: او که دوه وي نو؟ او ئې فرمائيل: ''او که دوه وي نو بيا هم.'' عرض اوکړې شو: که يوه وي نو؟ او ئې فرمائيل: که يوه وي نو بيا هم. (معجم الاوسط ج۴ص۳۴۷حديث ۶۱۹۹ مُلَخّصًا) (6) د چا چه درې **لونړه** يا درې **خويندې** وي يا دوه لونړه يا دوه خويندې وي بيا هغه د هغوئ په ښه طريقه پالنه اوکړي او د هغوئ په باره کښې د الله عَزَّوَجَلَّ يره لري نو د هغه د پاره **جنّت** دې. (ترمذی ج ۳ ص ۳۶۷ حديث ۱۹۲۳) (7) د چا چه درې **لونړه** يا درې **خويندې** وي او هغه د هغوئي سره ښه سُلوك اوکړي نو هغه به **جنّت** ته داخليږي. (ترمذی ج ۳ ص ۳۶۶ حديث ۱۹۱۹) (8) چا چه په خپلو دوه **لونړو** يا دوه **خويندو** يا په دوه **خپلوانو ماشومو جينکو** د ثواب په نيّت [د مال وغيره] خرچه اوکړه تر دې چه **الله** تعالیٰ هغوئ بې نيازه کړي (يعني د هغوئ نکاح اوشي يا هغه مال لرونکي شي يا هغه وفات شي) نو هغه د هغه د پاره د اور نه پناه جوړې شي. (مسند امام احمد بن حنبل ج ۱۰ ص ۱۷۹ حديث ۲۶۵۷۸)

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شريف اولوستل دهغه د دوه سوو كالو ګناهونه به معاف شي. (كنزالعمال)

## په لور باندې د ماهِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مهرباني

**حضرت** سيِّدُتُنا بي بي **فا طمه** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا به چه كله د مَحبوبِ رَبُّ العِزّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت باشفقت كښې حاضريدله نو سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اودريدلو او د هغوئ طرف ته به متوجّه شو، بيا به ئې په خپل ښكلي ښكلي مبارك لاس كښې د هغې لاس اونيولو او ښكل به ئې كړو بيا به ئې هغه د خپلې ناستې په ځائ كښينوله. هم دغسې به چه كله هغوئ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سيِّدَتُنا بي بي **فاطمه** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا كره تشريف يوړلو نو هغې به چه اوليدو نو[هغه] به او دريدله، د سركار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك لاس به ئې په خپل لاس كښې اونيولو او ښكل به ئې كړو او هغوئ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ئې په خپل ځائ كښينولو.

(ابوداؤد ج ۳ ص ۴۵۴ حديث ۵۲۱۷)

## مشره شهزادګئ ظالِم په نيزه اووهله....

**حضرت** سيِّدُتُنا **زينب** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د رسولِ اكرم، نورِ مُجَسّم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه مشره شهزادګئ وه چه هغه د اعلانِ نُبُوّت نه لس كاله مخكښې په **مكّه مُكرّمه** زَادَهَا اللّٰہُ شَرَفًاوَّتَعۡظِیۡمًا كښې پيدا شوې وه. د جنګِ بدر نه پس حُضورِ پرنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د **مكّې مُكرّمې** زَادَهَا اللّٰہُ شَرَفًاوَّتَعۡظِیۡمًا نه **مديني منوّرې** زَادَهَا اللّٰہُ شَرَفًاوَّتَعۡظِیۡمًا ته را اوبلله. چه كله هغه د هِجرت په اِراده سره په اوښ كښيناستله او د **مكّې مُكرّمې** زَادَهَا اللّٰہُ شَرَفًاوَّتَعۡظِیۡمًا نه باهر اووتله نو كافِرانو د هغوئ لار بنده كړه، يو ظالِم

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شریف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کنزالعمال)

په نیزه اووهله او د اوښ نه ئې په زمکه راغوزار کړه چه د هغې په وجه باندې د هغوئ حمل ساقِط شو(یعني ماشوم هم په هغه وخت په خیټه کښې وفات شو). نبي کریم رَؤُوف رَّحیم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته په دې واقِعه سخت خفګان اورسیدو. چنانچه سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئ په فضائِلو کښې ارشاد اوفرمائیل: هِيَ اَفْضَلُ بَنَاتِيْ اُصِيْبَتْ فِيَّ یعني "دا زما په لوڼړو کښې په دې حقله افضله[یعني غوره] ده چه دا زما طرف ته د هجرت کولو په وخت کښې په دومره غټ مُصیبت کښې پریوته." چه کله په سن 8 هِجري کښې حضرت سیِّدُتُنا زینب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهَا وفات شوه نو سلطانِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئ د جنازې د مونځ اِمامت پخپله اوکړلو او پخپله ئې په خپلو مُبارکو لاسو قبر ته کوزه کړله.

(شرحُ الزَّرقاني عَلَی المَواهِب ج ۴ ص ۳۱۸ ماخوذاً)

## نمسئ ته ئې ګوتئ عطا کړه

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرت سیِّدُتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: نجاشي بادشاه د سرورِ کائِنات صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ بابَرَکت کښې څه د کالو تُحفې رالیګلې وې چه په هغې کښې **د حبشي غمي والا یوه ګوتئ** هم وه. د الله خوږ نبي مکّي مدني صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ګوتئ له خپله همسا یا مبارکه ګوته وروړله او د خپلې مشرې شهزادګۍ سیِّدَتُنا زینب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهَا خوږه لُور یعني خپله نمسئ اُمامه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهَا ئې را اوبلله او اوئې فرمائیل: "اے وړوکې ماشومې دا ته په ګوته کړه."

(ابو دائود ج ۴ ص ۱۲۵ حدیث ۴۲۳۵)

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره درود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

## نمسئ د خپل مبارك نِيكه په اُوږه باندې

په "بُخاري شريف" كښې دي، حضرت سيِّدُنا ابو قتاده رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ روايت كوي: د الله عَزَّوَجَلَّ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ خوا ته تشريف راوړلو نو هغوئ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (خپله نمسئ) اُمامه بنتِ ابو العاص رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا په خپله مباركه اوږه باندې اوچته كړې وه. بيا هغوئ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونځ [يعني جَمعه] وركول شروع كړل نو رُكوع ته د تلو په وخت كښې به ئې هغه كوزه كړه او چه كله به اودريدلو نو هغه به ئې را اوچته كړه. (بُخارى ج ۴ ص۱۰۰ حديث ۵۹۹۶)

## د حديثِ پاك د مانځه د حِصّې شرح

شارِح بُخاري مُفتي شريفُ الحق امجدي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْقَوِى د دې حديثِ پاك نه لاندې ليكي: د مانځه كولو په وخت كښې د وړوكي ماشوم په غيږه كښې د اغستلو په باره كښې (د ځينې خلقو) صرف دا خيال دې چه مونځ نه كيږي، د دې وهم (يعني ګُمان، خيال) د ختمولو د پاره امام بُخاري عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْبَارِى دا باب تړلې دې او دا [بره بيان شوې] حديث ئې ذكر كړې دې. كه د وړوكي ماشوم بدن او جامې پاكې وي او په كوزولو او په غيږه كښې د اغستلو په وخت كښې "عَمَلِ كثير" نه كيږي نو د وړوكي ماشوم په غيږه كښې د اغستو په وخت كښې په مونځ كولو كښې هيڅ باك نشته. (نزہت القارى ج ۲ ص۱۹۸) په "تفهِيمُ البُخاري" كښې د دې حديثِ پاك نه لاندې دي: سيِّدِ عالم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بيانِ جواز د پاره

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي دَ درود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (ابو يعلٰی)

داسي کړي وو، دا د هغوئ (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د پاره مکروه نه وو (بلکه د هغوئ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حق کښې د ثواب باعث وو).

(تفهيم البخاری ج ۱ ص۸۶۴)

## د "عَمَلِ کثير" تعريف

بره ورکړې شوې شرح کښې د "**عَمَلِ کثير**" ذِکر دې، په دې باره کښې عرض دې چه د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اِدارې مکتبةُالمدينه چهاپ کړې شوې د 496 صفحو کتاب "نماز کے احکام" کښې په صفحه 242 نه 243 پورې دي: "**عَمَلِ کثير**" مونځ فاسِد کوي [يعني ماتوي] هله چه د هغې تعلق نه د مانځه د اعمالو سره وي او نه د مانځه د اصلاح دپاره وي. کوم کار کونکي چه د لرې نه داسې ښکاري چه دا په مانځه کښې نه دې بلکه که غالِب گُمان هم وي چه دا په مانځه کښې نه دې نو بيا هم **عَمَلِ کَثِير** دې او که د لرې نه کتونکي ته شك و شُبه وي چه دا په مانځه کښې دې که نه دې نو **عَمَلِ قَلِيل** دې او مونځ به نه فاسد کيږي. (دُرِّمُختار ج ۲ ص۴۶۴)

## په غيرِ کښې د ماشوم اغستو سره د مونځ کولو مسئَله

په بهارِ شريعت جِلد 1 صفحه 476 کښې دي: که چا په مانځه کښې په غيږه کښې دومره وړوکې ماشوم اغستې وو چه هغه (ماشوم) د هغه په غيږ کښې په خپل طاقت نه شي ټينګيدلې بلکه د دې مونځ کونکي په زور ټينګ شوې وي او د هغه [ماشوم] بدن يا جامې په قدر د مانِع مونځ ناپاکه وي نو مونځ به نه کيږي ځکه چه هغه دې

فرمانِ مُصطفٰےﷺ: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طبراني)

[مونځ کونکي] راتېنګ کړې دې او که هغه په خپل زور ځان تېنګ کړې وي، د دې (مونځ کونکي) د تېنګولو حاجت مند نه وي نو مونځ به اوشي چه اوس دا [ماشوم] مونځ کونکي نه دې تېنګ کړې، بیا هم بې ضرورته داسې کول د کراهت نه خالي نه دي اګر که د هغه په بدن او جامو باندې نجاست[ګند] هم نه وي.

## د مِسکینې مور په لونړو باندې اِیثار (حِکایت)

**اُمُّ المُؤمِنِین** حضرت سیِّدَتُنا عائِشه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: ما له یوه مِسکینه ښځه راغله چه د هغې سره د هغې **دوه لونړه** هم وې، ما هغې ته **درې کهجورې** ورکړې، هغې دواړو ته یوه یوه کهجوره ورکړه، بیا کومه کهجوره چه هغې پخپله خوړل غوښتله هغه ئې دوه ټُکړې کړه او هغه کهجوره ئې هم په هغوئ (یعني په دواړو لونړو) باندې اوخوړله. ما ته د دې واقعې نه ډیر تعجب اوشو [یعني ډیره عجیبه را ته ښکاره شوه] ما د نبيِّ مُکرّم، نورِ مُجسّم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښ د هغه ښځې ایثار بیان کړو نو سرکار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: "الله تعالٰی د دې (ایثار) په وجه د هغه ښځې د پاره جنّت واجِب کړو.،،

(مسلم، حدیث۲۶۳۰ ص۱۴۱۵)

## د اِیثار ثواب

مَاشَآءَالله! د "اِیثار" به څه وائې! کاش! چه مونږه هم خپل خوښ خیزونه ایثار کول زده کړې وې! د ترغیب او تحریص د پاره دا حدیثِ

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

پاك واورئ: فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځوك چه د څه څيز خواهِش لري، بيا هغه [كس] هغه خواهِش پريږدي او په خپل ځان باندې بل څوك غوره كړي [يعني هغه څيز بل ته وركړي]، نو الله عَزَّوَجَلَّ هغه اوبخښي. (إحياءُ العُلوم ج ۳ ص۱۱۴)

## په وركړه كښې د لونړو نه د شروع كولو فضيلت

د **حضرت** سيِّدُنا اَنَس بن مالك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د **رسولِ اكرم، شهنشاهِ آدم و بنى آدم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دې: "ځوك چه د بازار نه د خپلو بچو د پاره څه نوې څيز راوړي نو هغه په هغوئ (يعني په بچو) باندې د صدقه كونكي په شان دې او هغه ته پكار دي چه [په وركړه كښې] د **لونړو** نه شروع اوكړي ځكه چه **اللّٰه** تعالٰی په **لونړو** باندې رحم فرمائي او كوم كس چه په خپلو **لونړو** رحمت او شفقت [يعني رحم او مهرباني] اوكړي هغه د الله عَزَّوَجَلَّ په يره كښې د ژړيدونكي په شان دې او څوك چه خپلې **لونړه** خوشحاله كړي **اللّٰه** تعالٰی به د قيامت په ورځ هغه خوشحاله كړي." (اَلفِردَوس ج ۲ ص۲۶۳ حديث۵۸۳)

## د الټراساؤنډ ډيره ضروري مسئَله

په **كرورونو** افسوس! نن صبا د مسلمانانو يو شمير "**لور**" ناخوښه ګڼړي! او ځيني مور او پلار د دې معلوماتو د پاره الټراساؤنډ هم كوي چه په خيټه كښې هلك دې كه جينئ. بيا په ريورټ كښې د جينئ د خبر وركولو په صورت كښې ځيني خلق خو معاذالله عَزَّوَجَلَّ په حمل ضائِع كولو

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَجنّت لاره هيره کړه. (طبرانی)

هم اسره نه کوي. د الټراساؤنډ کولو ډيره ضروري مسئَله په خپل ذهن کښې اوساتئ: که مقصد د مرض علاج کول وي او د هغې د تَشْخِيْص (يعني پيژندګلو) د پاره بې پردګي کيږی نو بيا به هم د ماهر طبيب په وَينا باندې زنانه د کومې مسلمانې زنانه (او د نه مِلاويدو په صورت کښې د مجبورئ په وجه د نارينه وغيره) په ذريعه هم الټراساؤنډ کولې شي. خو د دي د پاره چه هلك دې که جينئ د دې معلوماتو تعلّق د علاج سره نه دې او په الټراساؤنډ کښې د زنانه د سَتْر (يعني د دي اندامونو مثلاً د نامه نه د لاندې حصّې) بې پردګي کيږي. لِهٰذا سړې خو لا سړې دې د کومې مسلمانې ښځې په ذريعه هم دا کار کول حرام او جهنّم ته بوتلونکې کار دې.

## د الټراساؤنډ غلط رپورټ کور وران کړو (دردونکې حکايت)

ځکه چه ټول سائِنسي تحقيقات يقيني نه وي لِهٰذا که د لور او ځوئ معامَله وي يا د څه بلې بيمارئ، د الټراساؤنډ رپورټ صحيح وي دا ضروري نه دي. د دعوتِ اسلامي د **مدني چينل** د هفته وارې مقبولې سلسلې "ايسا کيوں هوتا هے،، په خوارلسم قِسط "ظلم کی انتها" کښې يو پاکستاني ليبارټريَن [د ليبارټرئ ماهر] د خپلو تجرباتو بيانولو په دوران کښې څه داسې اووئيل چه "د يوې زنانه د ړومبنو ورځو د الټراساؤنډ په رپورټ کښې چه د هغې سره راغلي د هغې خاوند د لور واوريدل نو د اوريدو سره ئې غريبې له **طلاق** ورکړو! **خو چه کله ورځې**

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاك اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

**پوره شوې نو هلك پيدا شو!**“ خو آه! د الټراساؤنډ په رپورټ باندې په پټو سترګو د يقين ساتونكي سرې د نادانئ په وجه د هغه غمژنې غريبې ښځې كور وران شوې وو!

## د ځوئ د رپورټ باوجود لور پيدا شوه (حكايت)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! د الټراساؤنډ رپورټ حتَمى (FINAL، يقيني) نه وي، په دې باره كښې يو بل ”حِكايت“ واورئ، چنانچه د يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي څه داسې بيان دې چه زما يو كلاس فيلو فوجي افسر دې، په 2006ء يا 2007ء كښې د الټراساؤنډ د رپورټ مطابق د هغه زوجه [يعني ښځه] د يو ځوئ مور جوړيدونكي وه. د هغه رپورټ په وجه زما د دوست مور (يعني د كيدونكي ماشوم نيا) د ډيرو ارمانونو سره د نمسي (مردانه) جامې تيارې كړې، خو چه كله پيدائِش اوشو نو لور پيدا شوه، اوس خو دَ نيا په ارمانونو اوبه واوښتې، او د هغې بې عزتي اوشوه نو هغې ټوله غصّه لور راوړونكي خپلې هِنګور ته په رټلو او سپورو خبرو اوړولو سره كړه. (معاذالله لكه هِنګور چه په خپل اختيار لور راوړې وه!)

## د لور د دوو رپورټونو باوجود ځوئ پيدا شو

د **دعوتِ اسلامي** په عالمي مدني مركز فيضانِ مدينه (بابُ المدينه كراچۍ) كښې واقع د جامِعةُ المدينه د يو مُدرِّس بيان دې: د 2013ء خبره ده، زما په كور كښې د يو بل ماشوم د راتلو توقُّع وه، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

يو ځوئ او **درې لونړه** د مخکښې نه موجود وو. د طِبّي ضرورتونو په وجه په جُدا جُدا مياشتو کښې درې ځله الټراساؤنډ اوشو، وړومبي الټراساؤنډ کونکي د ځوئ خبر راکړو او باقي دوه ځله الټراساؤنډ يوې تجربه کارې ليډي ډاکټرې اوکړل او هغې دواړه ځله د لور خوشخبري راکړه. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي د مدني ماحول په برکت سره زما ذهن جوړ شوې وو چه دا معاملات ظنّي [شکي] وي يقيني نه وي او رښتيا خبره خو دا ده چه دا ځل زما په زړه کښې د ځوئ خواهش وو (چه د هغه دپاره ما د عالِم او مُفتي او د دعوتِ اسلامي د مُبَلّغ جوړولو غوندې مُختلِف نيتونه کړي وو) ځکه ما د خپل پروردِگار عَزَّوَجَلَّ نه دا دعا غوښتل نه وو پرېښې چه **يا الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته داسې ځوئ راکړه چه هغه په دُنيا او آخِرت کښې زمونږه په حق کښې بهتر وي خو د لور پيدا کيدو په صورت کښې به هم ما د خپل رب عَزَّوَجَلَّ شُکر ادا کولو ځکه چه د کله نه ما د خپل خوږ خوږ آقا مکّي مدني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د افرمانِ عاليشان لوستلې وو چه: "لونړه بدې مه ګڼړئ، بيشکه هغه محبّت کونکي دي. (مُسندِ اِمام احمد بن حنبل ج ۶ ص ۱۳۴ حديث ۱۷۳۷۸) نو زما د لونړو سره محبّت نور زيات شوې وو. بهرحال په 16 ستمبر 2013ء کښې چه کله پيدائِش اوشو نو د الټراساؤنډ د دوه رپورټونو برخلاف د **سپوږمئ په شان ښکلي مدني ماشوم** [هلك] تشريف راوړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى ذَالِكَ **(يعني په دې باندې د الله تعالٰی شکر دې)**

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

## په ښه نيّت د ځوئ خواهِش

ياد ساتئ! د لونړو نه نفرت نه كولو او د الله عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې راضي اوسيدونكي مسلمان د پاره د ځوئ د پيدائش خواهش كول او د هغه د پاره دُعاگانې غوښتل، وظيفې [لوستل] او تعويذونه وغيره استعمالول بيشكه جائز بلكه حافظ، قاري، عالِم، او مفتي او د دعوتِ اسلامي د مُبَلِّغ وغيره جوړولو ښه ښه نيتونه كول د ثواب كار دې. (دا نيتونه د لور دپاره هم كيدې شي) د دعوتِ اسلامي د سنتو د تربيت په مدني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو نه ډك سفر په دوران كښې د دعا كونكو ځيني وخت ارمانونه پوره كيږي چنانچه د نارينه اولاد نه غيرِه ډكونكي مدني سپرلي اوګورئ:

## د مدني ماشوم راتلل

د **قصبه كالونئ** (بابُ المدينه كراچئ) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: زمونږ په خاندان كښې جينكئ ډيرې وې، د تره مې ووه لونړه وې او د مشر ورور مې نهه لونړه وې! زما واده اوشو نو زما هم لور اوشوله. د خاندان بعضې خلقو ته د نن صبا د يو عام ذهن مُطابق وهم غوندې كيدلو چه چا جادو كړې دې او د نارينه اولاد سلسله ئې بنده كړې ده! ما نيّت اوكړو چه كه زما ځوئ پيدا شو نو **د يوې مياشتې په مدني قافِله** كښې به سفر كووم. زما د مدني ماشومي مور يو ځل خوب اوليدو چه د آسمان نه د كاغذ يوه ټُكره د هغې خوا ته را پريوته، چه راپورته ئې كړه

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو كښې ډير كنجوس(شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

نو په هغې باندې ليكلي شوي وو: "**بِلال.**" اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د يوې مياشتې د مدني قافِلې (د نِيّت) په بركت سره زما كره **مدني ماشوم** [هلك] پيدا شو! نه صرف يو بلكه وروستو بيا پرله پسې دوه **مدني ماشومان** [هلكان] نور هم پيدا شو. د **الله** عَزَّوَجَلَّ كرم اوګورئ! زما په حُسنِ ظن [يعني نيك ګُمان] كښې د **يوې مياشتې د مدني قافِلې** بركت صرف يواځې زما پورې پاتې نه شو، بلكه زمونږه په خاندان كښې چه څوك هم د نارينه اولاد نه **محرومه** وو د ټولو كره د خوشحاليانو سپرلي راوړونكي **مدني ماشومان** [هلكان] پيدا شول. د دې بيان وركولو په وخت كښې اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د علاقائي مدني قافله ذمه دار په حيثيت سره د مدني قافِلو سپرلي خورلو په كوششونو كښې مصروف يم.

آکے تم با ادب، دیکھو فضلِ رب — مَدنی مُنّے ملیں، قافِلے میں چلو
کھوٹی قسمت کھری، گود ہوگی ہری — پوری ہوں حسرتیں، قافِلے میں چلو

تاسو راشئ په ادب، اووينئ فضل د رب — شي پيدا به هلكان، قافلو كښې لاړ شئ
خوار قسمت به مو ښه، هم به ډكې غيږې شي — شي پوره به ارمانونه، قافلو كښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## غوښتلې مُراد نه مِلاويدل هم اِنعام!

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** اوليدل تاسو! چه د **مدني قافلې** په بركت سره څنګه د زړه مُرادونه پوره كيږي، د اُمّيدونو وچ [يعني شړ] پټي شنه كيږي او د زړونو مړاوې غوټۍ اوسپړدلې شي! خو دا ياد ساتئ چه

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

د زړه هر مُراد پوره کيدل ضروري نه دي، ډيرځله داسې کيږي چه بنده څه غواړي هغه د هغه په حق کښې غوره نه وي ځکه د هغه سوال نه پوره کيږي، په داسې حال کښې د هغه غوښتلې مُراد هغه ته نه مِلاويدل يقيناً د هغه دپاره انعام دې. مثلاً هم دا چه هغه **نارينه اولاد** غواړي خو هغه ته مدني ماشوماني [جينکۍ] ورکولې شي او هم دا د هغه په حق کښې غوره هم وي، ځکه چه د مِثال په طور که هلك پيدا شوې وې نو نابينا يا د لاس او ښپو نه معذوره يا هميشه بيمار اوسيدې، يا که صحت مند هم وې او غټ شوې وې نو هيرونچي، غل، ډاکو يا په مور او پلار باندې ظلم کونکې وې. په پاره 2 سُورَةُ البَقَره آيت نمبر 216 کښې د ربُّ العِباد عَزَّوَجَلَّ ارشادِ حقيقت بُنياد دې:

وَعَسٰۤى اَنۡ تُحِبُّوۡا شَيۡـًٔا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمۡ ؕ

**مفهوم ترجمه کَنزُالاِيمان: او نزدې ده چه کومه خبره ستاسو خوښه شي او هغه ستاسو په حق کښې بده وي.**

## د ''يَا شَافِيَ الْاَمْرَاضِ!'' د ديارلس حروفو په نسبت د تعويذاتو په باره کښې 13 مدني ګلونه

(1) د قرآني آيت دلوستلو د پاره د حيض او نفاس او جنابت نه پاك کيدل ضروري دي او د آيت په تعويذ ليکلو کښې دي هم د پاکۍ د حالت اِلتِزام کوي (يعني لازِمي دِ ئي ګنړي). په چا چه غُسل فرض نه وي هغه بې اودسه بغير د لاس وغيره لګولو نه په کتلو سره يا په يادو آيت لوستلې

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبراني)

شي خو بې اودسه د آیت تعویذ لیکل د هغوئ د پاره هم جائِز نه دي. هم دغسې د دې ټولو د پاره داسې تعویذ ته لاس وغیره لګول یا داسې ګوتئ ته لاس وغیره لګول یا په ګوته کول لکه د مُقطّعات ګوتئ، حرام دي. (2) که د آیت تعویذ په کپړه، ریګزین یا څرمن وغیره کښې ګنډلې شوې وي نو د بې غُسلو او بې اودسو ټولو د پاره دې ته لاس لګول او اچول جائِز دي. (3) تعویذ همیشه داسې لیکئ چه د هر دائِرې والا حرف سُورې واضِحه وي، یعني داسې: **ط، ظ، ہ، ه، ص، ض، و، م، ف، ق** وغیره (4) په آیاتو وغیره کښې اعراب (یعني زیر. زبر. پیش وغیره) لګول ضروري نه دي (5) د اغوستلو تعویذ همیشه په واټر پروف سیاهي مثلاً بال پین باندې لیکئ (6) د تعویذ راټولولو نه مخکښې دا اولولئ: بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ وَ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّدٍ نُوۡرٌ مِّنۡ نُوۡرِ اللّٰہِ (7) اعلٰحضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ به په تعویذ راټولولو کښې د ښي طرف نه شروع کوله (8) اچونکي ته پکار دي چه د خُوَلو او اوبو وغیره د اثر نه د بچ کولو د پاره تعوِیذ موم جامه کړي (یعني په موم کښې د لمدې شوې کپړې په ټکړه کښې ئې اونغاړي) یا ئې پلاسټك کوټِنګ کړي او بیا دِ ئې په کپړه، ریګزین یا څرمن وغیره کښې اوګنډي (9) د سرو یا سپینو زرو یا د هیڅ قِسمه اوسپنې (METAL) ډبې کښې د نارینه د پاره تعویذ اچول جائِز نه دي (10) هم دغه رنګ د دهات [یعني د هر قسم اوسپنې] زنځیر (METAL CHAIN) اچول که په هغې کښې تعویذ وي او که نه

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

وي د نارينه د پاره ګناه ده (11) د سرو يا سپينو زرو او د اسټيل وغيره د هر قسم اوسپنې(METAL) تختئ يا کړا [بنګړې غوندي] که په هغې څه ليکلي شوي وي او که پرې نه وي ليکلي شوي، يا که د **اللّٰه** مُبارك نوم يا **کَلِمه طيِّبه** وغيره پرې ليکلي شوي وي د هغې اچول [په لاس يا په غاړه کول] د نارينه د پاره ناجائِزه دي. (12) **زنانه** د سرو يا سپينو زرو په ډبي کښې تعويذ اچولې شي (13) په کوم لوښي، کنډولي يا رکيبئ وغيره باندې که قرآني آيات ليکلې شوې وي د هغې استعمالول مکروه دې، البته د شِفا په نيّت په هغې کښې اوبه وغيره څښلې شي خو د بې اودسه يا بې غُسله او د حيض او نِفاس والا زنانه هغه لوښي ته لاس وغيره لګول حرام دي. (بهارِ شريعت ج ۱ ص ۳۲۷ ملخصًا) د **آيت والا** لوښي اوبه که يو نابالِغه ماشوم وغيره په څه بل څه لوښي کښې واچولې نو د هر قِسم مريض او غيرِ مريض ټول ئې څښلې شي.

## ”يا رب په طُفيل د مصطفٰی ما په هر حال کښې خپل شکر ګزار لرې“

## د څلويښت حروفو په نسبت 40 روحاني عِلاجونه

## د بې اولادئ 4 روحاني علاجونه

(د هر وِرد نه مخکښې وروسته يو يو ځل درود شريف لوستل دي)

(1) د هر مانځه نه پس درې سوه ځله د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لوستلو معمول [عادت] جوړ کړئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ صاحِبِ اولاد [اولاد لرونکي] به جوړ شئ (اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې دواړه ئې لوستلې شي)

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاوېږي۔ (مجمع الزوائد)

(2) ښځه او خاوند دواړه دِ 56 ځله لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ د شپې په مينځ کښې [نيمه شپه] اولولي او "يو ځائ" دي شي نو د **اللّٰهُ ربُّ العِزّت** په رحمت سره به نيك اولاد کيږي چه هغه به د مور و پلار د پاره د راحت [يعني د سکون] ذريعه جوړ شي. (3) يَا اَوَّلُ 41 ځله روزانه لولئ اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ اولاد به مو اوشي. (مِيعاد 40 ورځې) (4) 40 دانې لونګ، هره يوه دانه د **سورةُ النُّور** په آيت نمبر 40 ووه ځله دم کړئ (هر څوك ئې لوستې شي) په کومه ورځ چه ښځه د حيض نه پاکه شي او غُسل اوکړي نو هم د هغه ورځې نه دي هره ورځ د اوده کيدو په وخت کښې يو يو لونګ خوړل شروع کړي او اوبه دي ورپسې نه څښي، په دې څلويښتو ورځو کښې دي کم نه کم يو ځل ضرور "يو ځائ" شي [هره ورځ ضروري نه ده] (او که زيات ځله يو ځائ شي نو هم څه باك نشته) اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ اولاد به ورنصيب شي.

## "يا خُدا کرم کر" د لسو حروفو په نِسبت د نارينه اولاد لس روحاني عِلاجونه

(د هر وِرد نه مخکښې وروستو يو يو ځل درود شريف لوستل دي)

(5) **يَا مُتَكَبِّرُ** خپلې ښځې سره د "يو ځائ کيدو" نه مخکښې 10 ځله لوستلونکې به اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ دَ نيك ځوئ پلار جوړيږي. (6) حامِله [يعني د کومې ښځې چه اُميد وي هغه] دي د شهادت ګوته د خپل نامه نه تاوهي او **يَا مَتِيْنُ** دي 70 ځله اولولي، دا عمل دي د څلويښتو ورځو

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوكړه۔ (عبدالرزاق)

پورې جارې ساتې، د **الله** عَزَّوَجَلَّ په فضل و كرم سره به څوئ وركړې شي. په دې عمل كښې د هر مرض علاج دې. كه هر څوك دا عمل اوكړي نو اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ شفا به مومي. (د نوم نه د كپړې لرې كولو ضرورت نشته، د كپړې د پاسه دا عمل كول دي) (7) د حمل شروع كيدو [يعني ګيدېه كيدو ] د اولنئ مياشتې په كومه يوه ورځ صرف يو پيره د خپلې ښځې د ښي طرف په پوښتئ باندې 54 ځله لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اوليكئ نو اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ د څوئ پلار به جوړيږي. (د سياهي (INK) نه بغير صرف د شهادت په ګوته ليكل دي، اعراب [زير، زبر، پيښ وغيره] پرې مه لګوئ چه يوځل اوليكئ نو بيا په هغې د پاسه بيا بيا ليكلو كښې باك نشته) (8) بې اولاده سړې دې 7 نفلي روژې اونيسي او هره ورځ چه كله د روژه ماتې وخت نيزدې وي نو يَا مُصَوِّرُ يوويشت ځله اولولي، اوبه دِ پرې دم كړي او په خپله ښځه دې ئې اوڅښي (او كه ښځې هم روژه نيولې وي نو كه غواړي هم په دغه اوبو دِ روژه ماته كړي) د الله ربُّ العِزّت په عِنايت سره به نيك څوئ پيدا كيږي. شندېه ښځه كه غواړي هم نو دا عمل دِ اوكړي اوبه دِ دم كړي او هم په دې دم كړو اوبو دِ روژه ماته كړي. (كه غواړي نو دواړه په جُدا جُدا وختونو كښې هم دا عمل كولې شي) (9) چه **حمل** [يعني ګيدېه] شي او درې مياشتې شل ورځې اوشي نو پرله پسې دِ د څلويښتو ورځو پورې حامِله [يعني اُميد لرونكې] دا عمل اوكړي: اول يوولس ځله درود

فرمانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئېلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس(شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

شريف او بيا هره پيره د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم سره دِ ووه ځله سوره يٰسٓ شريف اولولي بيا په آخره کښې دِ هم يوولس ځله درود شريف اولولي او اوبه دِ پرې دم کړي او او دِ ئې څښي (که صحيح ئې لوستلې شي نو هله دِ دا عمل اوکړي، د لوستلو په وخت کښې دِ خبرې بالکل نه کوي) اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ نيك ځوئ به ورکړې شي (10) د حامِله په ګېډه دِ خاوند لاس کيږدي او داسې دِ او وائي "اِنۡ كَانَ ذَكَرًا فَقَدۡ سَمَّيۡتُهٗ مُحَمَّدًا. ترجمه: که دا هلك وي نو ما د ده نوم مُحمّد کيښودو" (اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هلك به پيدا کيږي. که د لوستلو په وخت کښې د عربي عِبارت معنٰى په ذِهن کښې وي نو د ترجمې د الفاظو وئيلو ضرورت نشته ګني د ترجمې الفاظ هم اووائې) (11) که ځوئ ئې نه کيږي، بې اولاده وي، کچه حمل ئې غورزيږي يا د پيدائِش نه پس ئې ماشومان مري نو ووه کچه تارونه[1] راواخلئ او ښځه بالکل نيغه اودروئ يا ئې بالکل سِيده څملوئ او د هغې د تندي د ويښتو نه ئې د ښپو د ګوتو پورې ميچ [ناپ] کړئ بيا ټول تارونه يو ځائ کړئ او په هغې يوولس ځله آيتُ الكرسي شريف داسې اولولئ چه هره پيره يوه يوه غوټه ترړئ او دم کوئ ئې. دا تارونه بيا (د ضرورت مطابق د کپړې په اوګده پټئ کښې په اوګدو اوګنډئ چه د خيټه غټه کيدو په صورت کښې هم کار چليدې شي، بيا

[1] عام طور دکانداران د پونړئ تړلو د پاره هم دا تار استعمالوي.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

هم كه تنګه پريوځي نو د كپړې په پټئ كښې د غټولو د پاره جوړ هم لګولې شئ) د ښځې د ملا نه تاؤ اوتړئ. چه تر څو ماشوم پيدا نه شي تر هغې ئې بالكل مه خلاصوئ تر دې چه د غسل په وخت كښې ئې هم مه جُدا كوئ. چه كله د حمل نښې ښكاره شي نو د كور پوخ شوي خوړ ځيز (مثلاً خوږو سپينو وريژو) باندې د سركارِ بغداد حضورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه، د حضرت سيِّدُنا شيخ مُحمّد افضل رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه او د سيِّدُنا اِمام احمد رضاخان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن [د ايصال ثواب د پاره] فاتِحه اولولئ او ښځه دِ دوه ركعته نفل ادا كړي بيا دِ اودريږي او د بغداد شريف طرف[2] ته دِ مخ كړي او داسې عرض دِ اوكړي: "**يا غوثُ الاعظم** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه كه زما **ځوئ** اوشو نو ستاسو په غُلامئ كښې به ئې دركړم او د هغه نوم به **غلام مُحىُ الدِّين** كيږدمه." اِنْ شَآءَاللّٰهعَزَّوَجَلَّ **هلك** به پيدا كيږي. چه كله ماشوم پيدا شي نو غسل وركړئ، په غوږونو كښې ورته د آذان كولو نه پس هغه تارونه ئې د مور د ملا نه راخلاص كړئ او ماشوم ته ئې په غاړه كړئ (كه غواړئ نو د كپړې هغه پټئ اوسپړئ او هغه غوټې لګيدلې تارونه هم ورته په غاړه كولې شئ) او د ماشوم د پيدائِش د ورځې نه واخله

[2] د پاكستان د مختلِفو ښارونو د فرق په لحاظ سره د پاكستان نه د بغداد شريف طرف د مغرِب [يعني د نمر پريواته] نه شمال طرف ته په ووه يا اته ډِګرئ باندې دې.د پاك و هِند اوسيدونكي چه د كعبې طرف ته مخ كولو نه پس معمولي شان ښي لاس ته تاؤ شي نو د بغداد شريف طرف ته به ئې مخنبه شي.

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په مانباندې درود پاك اوليكل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

هر كال د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د نياز [خيرات] د پاره يوه يوه روپئ جُدا جمع كوئ. چه كله ماشوم د يوولسو كالو شي نو د هغه يوولسو روپو شيريني [يعني څه خوږ څيز] يا كه خومره غواړئ نور رقم هم ورسره ملګرې كړئ او د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نياز [خيرات] پرې اوكړئ او بيا هغه تارونه په څه **محفوظ** ځائ كښې خښ كړئ. (12) د ناجوړتيا د ورځو د فارِغ كيدو نه پس دِ حسبِ توفيق [يعني څه نه څه] خيرات كړي، يو ځل **سُوْرَةُ التَّوْبَةِ** او اول آخِر دِ يوولس يوولس ځله درود شريف اولولي. اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ **خوئ** به ئې پيدا كيږي. (13) ښځه دِ د هر مانځه نه پس يو ځل تسبيح يعني 100 ځله دا آيتِ كريمه رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّ اَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۸۹﴾ (پ ۱۷، الانبياء: ۸۹) لولي، اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ د خوئ نعمت به ورته ملاويږي. (14) ښځه او خاوند دواړه دِ هره ورځ 101 ځله **سُوْرَةُ الْكَوْثَر** لولي، اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ ډير زر به د خوئ مور او پلار جوړ شي.

## په پيدائِش كښې د آسانئ 5 روحاني عِلاجونه

(15) د پيدائِش په درد كښې كه تكليف زيات وي نو ښځه دِ د مُهرِ نُبوّت شريف عكس (يعني فوټو) او د نعلِ پاك نقش دِ په موټې كښې كلك اونيسي يا دِ ئې په مټ اوتړي، چه د كله پورې ئې ستر پټ وي د **ياالله** وظيفه دِ كوي، كه ملاسته وي نو د وظيفې لوستلو په وخت كښې دِ ښپې راغونډې ساتي. (اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ په يو څومنټه كښې به پيدائِش

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږلي- (ابن عدي)

اوشي) (16) يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ 111 ځله (اوّل آخِر يو يو ځل درود شريف) لوستلو او په دې د پيدائِش په درد کښې د اخته ښځې خيټه او ملا دم کولو يا په ليکلې شوي صورت کښې د تړلو سره به د ربُّ العِزّت په عِنايت سره د پيدائِش په درد او په پيدائِش کښې آساني کيږي. (17) د سُوْرَةُ الْاِنْشِقَاقِ اولني پينځه آيتونه اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴿١﴾ وَ اَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾ وَ اِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ ﴿٣﴾ وَ اَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَ تَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَ اَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَ حُقَّتْ ﴿٥﴾ درې ځله اولولئ (اوّل آخِر درې ځله درود شريف) هره پيره ترې مخکښې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لولئ بيا پرې اوبه دم کړئ او اوئې څښئ. کله کله د دې آياتِ مبارکه وظيفه کوئ. که اسلامي خورئې نه شي لوستلې نو بل څوك هم ورله اوبه دمولې شي. اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ د پيدائِش په تکليف کښې به آرام مِلاويږي، که ماشوم کوږ پروت وو نو هغه به هم سِيده شي. که الله تعالٰى ته منظوره وه نو د آپريشن خطره به هم ختمه شي.(د علاج ميعاد: د مقصد د حاصِليدو پورې) (18) حامله که هره ورځ د سُوْرَةُ مَرْيَمَ تلاوت کوي نو اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ پخپله به د دې برکتونه اوويني. د پيدائِش په درد کښې سکون [ارام] او د الله عَزَّوَجَلَّ په رحمت سره به په پيدائِش کښې آساني کيږي. (19) يَا قَوِيُّ دِ 100 ځله لولې او حامله دِ پرې خپله خيټه دَمَوي، اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ ماشوم به سيده شي او د آپريشن ضرورت به نه پيښيږي.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شريف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کنزالعمال)

**په پيدائِش کښې د آسانئ کورنې علاج:** حامله [يعني اميد لرونکې] ته د نهمې مياشتې په شروع کښې په مناسب مقدار کښې د غوا په شودو [پئيو] کښې چه پخپله مو لوشلي وي، چه بازاري نه وي، پينځه مُنقّې [يعني غټې وَخکې] (زړې ترې اوباسئ) او لس څاڅکي د بادامو تيل (ALMOND OIL) اچوئ او ماښام ئې پرې څښېئ، که د بادامو تيل پيدا نه شي نو د غوا په ترمو شودو [پئيو] کښې دِ د غوا غوړي واچوي او او دِ ئې څښي. او که د غوا پئ پيدا نه شي نو د ميښې يا بيزې خالص پئ هم استعمالولې شي. په داسې کولو به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ قبض نه کيږي او د زړه درزيدلو، زړه ډِکيدلو [يعني اُلتئ کيدو]، د پِتو راښکلو او د پندېو د درد نه به په حفاظت کښې اوسي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آپريشن نه بغير به پيدائِش اوشي. د دې عِلاج نه د بلډ پريشر زياتيدو هيڅ خطره نشته بلکه که د حامله بلډ پريشر شي نو هم د دې عِلاج نه به ورته فائِده اوشي.

## د کچه حمل غورزيدو 4 روحاني علاجونه

(20) د حمل [يعني اُميد] کيدو نه پس دِ يَا حَيُّ يَا حَافِظُ يَا مُصَوِّرُ 1100 ځله هره ورځ د څلويښتو ورځو پورې اولولي، که هره ورځ ئې په يو وخت او په يو ځائ لولي نو ډيره غوره ده. د ربُّ العِزّت په رحمت سره به د حمل حفاظت کيږي. (21) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 55ځله اوليکئ، تعويذ ترې جوړ کړئ او حامله ته ئې واچوئ د ربُّ العِزّت په رحمت سره به د

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شریف لولئ بیشکه ستاسو په ما باندې درود شریف لوستل ستاسو دګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

حمل حفاظت هم کيږي او مدني ماشوم يا مدني ماشومه به هم د آفتونو او مُصيبتونو نه په حفاظت کښې اوسي (22) ياالله1001ځله اوليکئ او حامله [يعني اُميدوارې] ته ئې د حمل د شروع 40 ورځو پورې واچوئ بيا ئې ترې لرې کړئ او په نهمه مياشت کښې ئې بيا ور واچوئ، اِنْ شَآءَاللہعَزَّوَجَلَّ حمل به په حفاظت کښې وي او تندرسته مدني ماشومه يا مدني ماشوم به پيدا کيږي، بيا ئې ترې خلاص کړئ او مدني ماشومې يا مدني ماشوم ته ئې واچوئ (23) په بال پين دې يَا حَیُّ یَا قَیُّوْمُ 111 ځل په کاغذ اوليکې او د حمل کيدو نه پس دِ ئې زنانه په خپله خيټه اوتړي او د ماشوم د پيدا کيدو پورې دِ ئې ترلې پريږدي، اِنْ شَآءَاللہعَزَّوَجَلَّ صحت مند مدني ماشوم به پيدا کيږي. (که حامِله ئې پخپله نه شي ليکلې نو بل څوک ئې هم ورله ليکلې شي)

## د سينې د پړسوب دوه علاجونه

(24) سُوْرَۃُ الْاِخْلَاصِ، سُوْرَۃُ الْفَلَقِ، سُوْرَۃُ النَّاسِ دِ لس لس ځله اولولي، اوبه دِ پرې دم کړي [او په مريضه دِ] اوڅښلې شي. اِنْ شَآءَاللہعَزَّوَجَلَّ د پړسوب نه به خلاصې اومومي. (25) ﴿وَ اِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴾ (پ19، الشعراء 80) ﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّ شِفَآءٌ ﴾ (پ 24، حٰمٓ السجده) که د پئيو راتللو ځائ پړسوب کړي وي نو زنانه دِ دا آياتِ مبارکه اولولي، لاسونه دِ پرې دم کړي او د پړسوب په ځائ دِ ئې راښکاږي.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (ابو يعلیٰ)

## د حيض د بيمارئ خلور روحاني عِلاجونه

(26) صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْیٌ فَهُمْ لَا یَرْجِعُوْنَ ۝ كه دحيض وِينه په ډير مقدار كښې راځي نو دا آياتِ مباركه دِ اوليكلې شي او په خيټه دِ اوتړلې شي. (27) كه د حيض د كمئ بيماري وي نو د يوولسو ورځو پورې هره ورځ 341 ځله دا [بَرَه] آياتِ مباركه لولئ آبِ زم زم پرِ دَمَوئ او په مريض ئې څښئ. (28) د حيض وِينه ډيره راتلو په صورت كښې د ووه ورځو پورې هره ورځ يو ځل په سُوْرَةُ الدَّهْر اوبه دم كړئ او پرې او ئې څښئ اِنْ شَآءَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ وِينه راتلل به بند شي. (29) په سُوْرَةُ الْكَوْثَر 313 ځله د باران اوبه دمول او په مريض څښل د حيض زيات راتلو په بيمارئ كښې ډير فائِده مند دي.

## د مور د پئيو كمي لرې كولو 6 روحاني عِلاجونه

(30) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ چه 11 ځله په كاغذ يا ركيبئ اوليكلې شي او بيا اووينځلې شي او هغه اوبه په هغه زنانه اوڅښلې شي د چا چه وړوكې ماشوم ته وركولو د پاره پئ نه راځي يا بالكل كم راځي، اِنْ شَآءَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ پئ به ئې زيات شي. او كه هم دا اوبه په حامله اوڅښلې شي نو د الله عَزَّوَجَلَّ په فضل كرم سره به حمل په حفاظت كښې وي.

(31) يَا مَتِيْنُ (اے قُوّت والا) كه د مور پئ كم وي نو دا اِسمِ پاك اوليكئ او [دا خابشت] پرې اوڅښئ اِنْ شَآءَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ پئ به زيات شي.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طبراني)

كوم ماشوم چه د پئيو نه پرې كړې شوې وي نو په كاغذ ئې اوليكئ او په ماشوم ئې اوځنبئ. اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ هغه ته به آرام [او صبر] حاصِل شي. (32) هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْم 300 ځله لوستل او دمول د مور د پئيو د كمي لرې كولو د پاره ډير فائِده مند دي.

(33) (وَهِيَ تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ ) (پ 12، هود: 42) (فِيْهِمَا عَيْنٰنِ تَجْرِيٰنِ ﴿۵۰﴾) (پ 27، الرحمٰن: 50) (وَ اَوْحَيْنَاۤ اِلٰۤى اُمِّ مُوْسٰۤى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِيْ وَلَا تَحْزَنِيْ ۚ اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۷﴾) (پ 20، القصص: 7) (فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۳﴾) (پ 27، الرحمٰن: 13) كه په زنانه كښې پئ نه پيدا كيږي نو دا آيات مباركه 101 ځله اولولئ او د باران اوبه پرې دم كړئ او پرې او ئې ځنبئ يا دِ ئې زنانه پخپله دم كړي او او دِ ئې ځنبی، اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ پئ به ډير پيدا كيږی.

(34) (وَ اِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿۸۰﴾) (پ 19، الشعراء 80) (قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّ شِفَآءٌ ) (پ 24، حٰمٓ السجده) كه پئ كم پيدا كيږي نو دا آياتِ مباركه دِ پخپله اولولي يا دِ ئې په بل چا اولولي اوبه دِ پرې دم كړي او د 21 ورځو پورې دِ ئې زنانه اوځنبي او هم دا دِ پخپله اوليكي يا دِ ئې په بل چا اوليكي او په خپله سينه دِ ئې اوتړي. (35) كه پئ ئې كم راځي نو دا [پاس] آيتِ مباركه دِ په خميره ډوډئ باندې پخپله اوليكي يا دِ ئې په بل چا اوليكي او زنانه دِ ئې د 7 ورځو پورې اوخوري.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

## (36) مدني ماشوم به پيۍ ځبنکل شروع کړي

که مدني ماشوم يا مدني ماشومه پيۍ نه ځبنکي نو يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ 100 ځله اوليکئ او د درياب په اوبو ئې اووينځئ او پرې اوئې ځبنکئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ پيۍ ځبنکل به شروع کړي او ضِد [زيل، ډيره ژړا] به هم نه کوي.

## (37) د پئيو نه پرې کولو د پاره

لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 18 ځله اوليکئ، تعويذ ترې جوړ کړئ او د مدني ماشومې يا مدني ماشوم په غاړه کښ ئې واچوئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ پيۍ به پريږدي.

## د پئيو ورکولو ضروري مسئَله

د هجري سن [اسلامي کال] په حساب سره د دوه کالو د عُمره پورې ماشوم ته د هغه مور (يا هر څوك ښځه) پيۍ ورکولې شي، د دوو کالو نه وروستو د مور يا د بلې ښځې پيۍ ورکول حرام او جهنّم ته بوتلونکي کار دې. خو که په دوه نيمو کالو کښ دننه ماشوم د کومې ښځې پيۍ اوځبنل نو د پئيو [يعني د رضاعت] رِشته به قائِمه شي.

## (38) د نافرمانه د پاره روحاني عِلاج

يَا شَهِيْدُ اے د (ښکاره او پټ نه خبرداره) چه څوك سحر (د نمر راختو نه مخکښ مخکښ) د نافرمانه ماشوم يا ماشومې په

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

تندي لاس کيږدي او آسمان طرف ته مخ کړي او يوويشت ځله اولولي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه هغه بچې يا بچئ به نيك جوړ شي. (موده: د مقصد د پوره کيدو پورې)

## (39) د بې عمله روحاني عِلاج

بې عمله کس چه کله اوده وي نو هغه وخت تقريباً د درې فُټه (يعني تقريباً د يو ميټر) د فاصلې نه کوم يو مونځ ګُزاره اسلامي ورور يا اسلامي خور دِ يو ځل سُوْرَةُ الْاِخْلَاص په لږ اوچت آواز اولولي خو دومره احتياط ضروري دې چه د هغه سترګې او نه غړيږي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ اوده کس به نيك عمل کونکې جوړ شي. د بې عملې ښځې د پاره هم دا عمل کولې شي.

## (40) د خاوند د نيك او مونځ ګزاره جوړلو نُسخه

که د کومې ښځې خاوند په بدو عادتونو کښې اخته وي او هر وخت جنګونه کوي نو د هره پيره بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لوستلو سره دِ يوولس سوه او يوولس (1111) ځله سُوْرَةُ الْفَاتِحَه اولولي او اوبه دِ پرې دم کړي او په خپل خاوند دِ ئې اوڅښي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ خاوند به ئې نيك او مونځ ګُزاره جوړ شي. (دا عمل په داسې طريقه کول پکار دي چه خاوند وغيره پرې خبر نه شي، ګني د غلط مطلب اغستو په وجه فساد کيدې شي. که غواړئ نو د کولر وغيره اوبه پرې دم کړئ، د خاوند سره سره دِ ئې ټول څښي)

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاوېږي۔ (مجمع الزوائد)

# فهرست



| | | | |
|---|---|---|---|
| دَ دُرُود شريف فضيلت | 1 | د الټراساؤنډ غلط رپورټ كور وران --- | 16 |
| ژوندئ لور ئې كوهي ته غوزار كړه | 1 | د ځوئ د رپورټ باوجود لور پيدا شوه | 17 |
| پلاره! ولې ته ما وژنې څه؟ | 2 | د لور د دوو رپورټونو باوجود ځوئ -- | 17 |
| اته لونړه مې ژوندئ خښې كړي دي! | 3 | په ښه نيّت د ځوئ خواهِش | 19 |
| پينځه سختې يرونكې واقِعې | 4 | د مدني ماشوم راتلل | 19 |
| ژوندئ ماشومه ئې په پريشر كوكر--- | 5 | غوښتلې مُراد نه مِلاويدل هم اِنعام! | 20 |
| د ځينې انبيائے كِرامو د اولاد شمار | 6 | د "يَا شَافِيَ الْاَمْرَاضِ!" د ديارلس | 21 |
| د حُضور د مُقدّس اولاد شمار | 7 | د بې اولادئ 4 روحاني علاجونه— | 23 |
| د "خاتونِ جنّت" د اته حروف په -- | 8 | د نارينه اولاد لس روحاني عِلاجونه | 24 |
| په لور باندې د ماهِ رِسالت مهرباني | 10 | په پيدائِش كښې د آسانئ 5 روحاني -- | 28 |
| مشره شهزادګئ ظالِم په نيزه اووهله | 10 | د كچه حمل غورزيدو 4 روحاني --- | 30 |
| نمسئ ته ئې ګوتئ عطا كړه | 11 | د سينې د پړسوب دوه علاجونه | 31 |
| نمسئ د خپل مبارك نِيكه په اُوږه باندې | 12 | د حيض د بيمارئ څلور روحاني --- | 32 |
| د حديثِ پاك د مانځه د حِصّې شرح | 12 | د مور د پئيو كمې لرې كولو 6 روحانيې | 32 |
| د "عَمَلِ كثير" تعريف | 13 | مدني ماشوم به پئ څښنكل شروع كړي | 34 |
| په غيرِ كښې د ماشوم اغستو سره د--- | 13 | د پئيو نه پرې كولو د پاره | 34 |
| د مِسكينې مور په لونړو باندې اِيثار | 14 | د پئيو وركولو ضروري مسئَله | 34 |
| د اِيثار ثواب | 14 | د نافرمانه د پاره روحاني عِلاج | 34 |
| په وركړه كښې د لونړو نه د شروع --- | 15 | د بې عمله روحاني عِلاج | 35 |
| د الټراساؤنډ ډيره ضروري مسئَله | 15 | د خاوند د نيك او مونځ ګزاره جوړلو -- | 35 |